# د قنبر علي خان اورکزي صوفيانه شاعري

## Mysticism in the poetry of Qamber Ali khan

**Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani)***

**ABSTRACT:**

Poetry and mysticism go paralel to each other since long because Poetry is incomplete without refering to love and love is complete without refering to eternal love and eternal love is impossible without having quality and capacity of mysticism. commonly mysticism stands for the cleaneness of internal of human from all kinds of sins and immorality. In Pashto poetry mysticism was for the first time used by Bayzed Rokhan and continued sofor not only by the sufi poets but also by the poets who generally prefer worldly love and affections .This type of poetry was commonly used by Pashto classic poets like, Arzani Kheshki,daulat Lowani,Khushal khan Khattak ,Rehman Baba,Kazim Khan Sheda,Hamid Baba,and modern poetry too given place to mysticism and sufisim. Similarly Pashtppoetry is considered incomplete without rfering to mystic touch. This paper will high light Mysticism in the poetry of Qamber Ali Khan indept.

**Key Words:** Pashto, Pashto poetry, mysticism, Quran, character, Quran, Prophet.

تصوف او شاعري د شروع ورځې نه څنګ په څنګ را روان دي ولې چې شاعري دپاره عشق يو لازمي توکے ګڼلے شي او تصوف د عشقِ حقيقي دويم نوم دے. نو هم په دې اساس تل لويو او ښو شاعرانو تصوف سره څۀ نه څۀ اړيکه ضرور پاتې شوې ده. که په عملي توګه هغوي تصوف سره څۀ تعلق نۀ وي پاتې شوے خو ولې په فکري حواله هغوي تل خپلو افکارو ته د عرفاني نمر نه رڼا اخستې ده.

دې نه وړاندې چې په تصوف خبره وشي اول د صوفي توري لږه څيړنه کوو چې اخر دا تورے چرته نه او څنګه مروج شو؟

---

* Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.

ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي د دې توري مطلق په روښاني تصوف کښې يو اوږد بحث کړے دے خو ډاکټر محمد حفيظ الرحمان يې ډېر مختصر او جامع تعارف د خليق احمد نظامي په حواله داسې کړے دے:

"صفا: د دې ټکي مطلب دے صفائي. يعني روحاني صفائي. کومو خلکو به چې په روحاني صفائي باندې زور راوړو هغه به صوفي بللے شو. اهلِ صوفه: د حضورؐ په زمانه کښې به چې کوم صحابه په مسجدِ نبويؐ کښې هر وخت په عبادت کښې مشغول وو هغه به هم صوفي بللے شول.
صف: صف قطار ته وائي. په نمانځهٔ کښې به چې کوم خلک په اول صف کښې اودرېدل هغه به هم صوفي بللے شول. صوفه: دا يوه زړه قبيله وه چې د خانه کعبې د صفائۍ خيال به يې ساتلو او په ذکر و فکر کښې به مشغول وو. دا خلک هم په صوفي مشهور وو. شيو صوفيا: دا د يوناني ژبې تورے دے چې مطلب يې الٰهي حکمت دے. هغه خلک چې په قراٰن او احاديثو کښې غور و فکر کوي صوفي بللے شي. صوف: د دې توري مطلب د وړۍ دے. په عرب او ايران کښې به چې کومو خلکو د وړۍ جامې اغوندلې هغوي ته به يې هم صوفي وئيل"(۱).

تصوف څهٔ شے دے؟ تصوف د نفس صفائي ده. خداے پاک سره د انتها تر حده عشق تصوف دے. تصوف د دنيا په هر مذهب کښې شتون لري خو اسلامي تصوف د نورو مذهبونو کښې موجود تصوف نه لږ بېلتون لري. په نورو مذاهبو کښې صوفي ته مکمل ازادي حاصله وي خو په اسلام کښې داسې نهٔ ده. ولې چې په اسلام کښې د داسې عمل او طريقې بالکل اجازت نشته کوم چې قران او احاديثو نه مختلف وي. بلکې تصوف په اسلام کښې د اللهؒ او د رسولؐ سره د رښتوني مينې نوم دے. دا خو منلے شوے حقيقت دے چې څوک چا سره مينه کوي نو د هغهٔ هر حکم منل په ځان فرض ګڼي او د هغهٔ په هره ادا هرې قربانۍ ته تيار وي. اوس چې يو سړے د اللهؒ او د رسولؐ د عشق دعوىٰ کوي او په قران او احاديثو عمل ضروري نهٔ ګڼي نو دا سړے په خپله دعوىٰ کښې رښتونے نهٔ دے. نو

هم دغه وجه ده چې په اسلامي تصوف کښې په شریعت محمديؐ عمل کول د صوفي اولنۍ فریضه ده.

ډاکټر محمد حفیظ الرحمان په دې اړه داسې لیکي:

"حقیقت میں تصوف قرآن کے حکم کے مطابق پیغمبر حضرت محمد ﷺ کی عملی زندگی کے ذرئعے اپنائے گئے اس عمل کا نام ہے جس کے مطابق نبی کے پاکیزہ کردار اور شیریں اخلاق کو اپنی زندگی میں نافذ کرنا، نیز تزکیہ نفس کے مطابق اپنے روح کو پاک کرنا اور نفس امارہ کے اثر سے نجات پانے کے لئے خوف اور امید کیساتھ عبادت میں مشغول ہو کر خدا سے محبت اور قربت حاصل کرنے کے کرنے کے لئے، خود اس پر قربان کرنے کے جذبے کو اپنے اندر پیدا کرنے کا وہ طریقہ ہے جو نبی ﷺ نے اپنائی اور بتائی۔ اس طریقے کے مطابق عمل کرنے کا نام تصوف ہے"(۲).

حبیب الله رفیع د محمد عباس قادریه په حواله لیکلي:

"صوفیان هغه خلکو ته وائي چې خپل باطني تربیت ته زیاته پاملرنه کوي او تش په رسمي عبادتونو بسته نۀ کوي. هر دم اللهؒ ذکر د هغوي طریقه وي او له حضرت رسولؐ الله سره محبت وي. هغوي د شریعت پابندي د محبوب اشارت ګڼي او په ډېره مینه او تلوسه شرعي احکام ترسره کوي"(۳).

تصوف د نفس صفائي ده، د تصوف تر ټولو لوے مقصد خپل ځان د هرې ګندګي نه بچ ساتل دي. ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي په روښاني تصوف کښې د تصوف تعریف څۀ دا رنګه کوي:

" تصوف د باطن صفائي ده یا تزکیه ده یا د اعلی اخلاقو حاصلول دي. د مثال په توګه سید علي هجوېري فرمائي چې تصوف د باطن صفائي ده او د باطن صفائي د حضرت صدیق صفت دے. حضرت نوري فرمائي چې تصوف د نفساني خوندونو د پېښودلو نوم دے"(۴).

هسې خو د تصوف ډېر تعریفونه شوي دي هر چا یې د خپلې پوهې او سوچ مطابق تعریف کړے دے خو بشیر احمد ډار یې جامع تعریف داسې هم کړے دے:

"تصوف عملی طور پر وہ طریقہ حیات ہے جس کا مقصود ذاتِ خداوندی سے بلا واسطہ رابطہ پیدا کرنا ہے اور اس رابطے کے حصول کے لئے ہر شخص کو چند نفسانی تجربات سے گزرنا پڑتا ہے۔ یہ تجربات

اور واردا تیں مختلف صوفیا کا بہترین سرمایہ ہیں جن کی بنا پر انہیں حقائق حیات اور ذاتِ خداوندی کے وجود یقینِ واثق ہوتا ہے"(۵).

په نورو لفظونو کښې تصوف د هغه طريقې نوم دے په کومه کښې چې يو سړے د هره قسمه نفساني خواهشاتو نه ازاد شي او صرف د يو خدا ے رضا يې مقصود وي. د خدا ے رضا د پېغمبرؐ په رضا کښې ده نو صوفي دپاره د دې خبرې خيال ساتل ضروري وي چې د اللهؒ رضا په هغه طريقه حاصله کړي کومه طريقه چې حضرت محمدؐ ښودلې ده. په دې اړه ډاکټر محمد حفيظ الرحمان ليکي:

"تصوف اس طریقے کا نام ہے جس کے مطابق ایک آدمی دنیاوی خیالات سے آزاد ہو کر مکمل طور پر خدا کے سپرد اپنے آپ کو کر دے۔اس عمل کا تعلق نبی حضرت محمد ﷺ کے ان اعمال سے منسوب ہے جب آپ ﷺ ایک مخصوص وقت میں غارِ حرا میں جا کر عبادت میں مشغول ہو جایا کرتے تھے"(۶).

تصوف پښتو شعر و ادب ته په لسمه پيړۍ هجري کښې د بايزيد انصاري (پير روښان) په شکل کښې رادننه شو. دې نه وړاندې هم چې کومه لړه ډېره شاعري موندلې شوې ده په هغې کښې هم د تصوف رنګ شته خو په باقاعده توګه د يو تحريک په شکل کښې پير روښان په اول ځل په شعوري توګه پښتو د صوفيانه افکارو سره اشنا کړه. د پير روښان د افکارو تبليغ د هغۀ مريدانو په ډېره زورداره طريقه وکړو. د دې روښاني تحريک برکت ؤ چې پښتو شعر و ادب کښې کتابونه وليکلے شول چې له مخه يې پښتو ته ډېره ګټه ورسېده. مرزا خان انصاري، علي محمد مخلص، دولت لواڼے، ارزاني خوېشکي د روښاني تحريک هغه نوموړي شاعران دي چې په پښتو کښې د ذکر وړ کار کړے دے.

د روښاني تحريک اثارات راتلونکي پښتنو شاعرانو تر ډېره حده قبول کړي دي. زمونږ په کلاسيکي شاعرانو هم د دې تحريک اثرات ليدلے کېږي. رحمان بابا د پښتنو تر ټولو مقبول شاعر دے د هغوي شاعري زياته برخه هم په تصوفي افکارو مشتمله ده. د رحمان بابا نه وروسته تر کافي حده د تصوف موضوعات هم د رحمان بابا په رنګ کښې پښتنو شاعرانو د خپلې شاعرۍ برخه وګرځوله چې د جملې نه يې يو قنبر علي خان اورکزے هم دے.

قنبر علي خان اورکزے یو صاحب دیوان شاعر دے. د چا تعلق چې د اورکزو د کلایه سیمې سره دے. د قنبر علي خان اورکزي د استوګنے ځاے متعلق ښاغلے همېش خلیل لیکي:

"قنبر علي خان د اورکزي قبیلې د عبدالعزیز خېلو د څانګې د باقي خېلو په پښه کښې د سرور خان کره د تیراه مشهورې درې "دره مني خېل" په کلایه نومې کلي کښې سترګې غړولې وے."(۷).

د قنبر علي خان د زیږون صحیح نېټه نۀ ده معلومه البته د مړینې نېټه یې همېش خلیل صېب په دیوان قنبر علي خان په مقدمه کښې لیکلې ده:

"قنبر علي خان چونکې ۱۲۰۷ هـ کښې وفات شوے دے د زیږدنے نېټه یې صحیح طور نۀ شو متعین کولے خو که د قنبر علي خان عمر سل کاله او د هغۀ د شاعرۍ عروج په دېرشم کال فرض کړو نو په دغه حساب د رحمان بابا د ژوند تر کال ۱۱۳۷ هـ پورې یقیني کېږي"(۸).

قنبر علي خان اورکزے زمونږ د کلاسیکي شاعرانو په قطار کښې یو څرګند شاعر دے له بده مرغه هغوي ته هغه مقام په ګوتو نۀ دے ورغلے کوم چې د هغوي جایز حق ؤ. د دې ډېرې وجې کیدے شي خو یوه وجه یې دا هم ده چې د هغۀ وارثانو د هغوي کلام نور پښتنو نه پټ ساتلے ؤ خو د ښاغلي همېش خلیل په ذاتي زیار هغه ډېر وروسته په ۱۹۶۰ء کښې چاپ شو. د قنبر علي خان د شاعرانه مقام په حقله ښاغلے همېش خلیل لیکي:

"قنبر علي خان بحېثیت مجموعي د خپل دور د دویمې درجې د شاعرانو په لړ کښې د یو ښکاره مقام څښتن دے"(۹).

د قنبر علي خان د شاعرۍ په اړه ښاغلے همېش خلیل په خپله مقدمه کښې د هغۀ په شاعرۍ کښې د سکتو ذکر کوي او بیا وائي چې دا کیدے شي چې د کاتب نه تصرف شوے وي:

"په کلام کښې یې رنګیني هم شته خو ولې په ځینو ځایونو کښې یې سکتې محسوسېږي چې د کلام په روانۍ او تسلسل یې فرق او بې خوندي راولي. ولې دا د کاتب تصرف معلومېږي"(۱۰).

دا خبره سمه ده چې د قنبر علي خان د کلام په ځینو ځایونو کښې سکتې محسوسېږي او دا خبره هم جواز لري چې کاتب نه به تصرف شوے وي خو یوه بله خبره هم د غور وړ ده هغه د قنبر علي خان مقامي لهجه هم ده چې د معیاري لهجې سره څۀ لږ ډېر فرق ضرور لري خو یوه بله خبره د غور وړ دا هم ده چې قنبر علي خان خپل کلام په خپله نۀ دے مرتب کړے او د هغۀ عقیدت مندو ځان سره د تبرک دپاره سنبال ساتلے دے. دا کلام د یو نه بل نسل ته منتقل شوے دے نو دلته هم قوي امکان دے چې دې عقیدت مندو به په کښې ضرور څۀ خراش تراش کړے وي. دا عقیدت مند د قنبر علي خان اورکزي خېرخواه ځکه نۀ دي چې شاعر د ټول قام شریکه اثاثه وي د یو مخصوص ټولي دا سوچ چې دا صرف زمونږ سره د هغۀ امانت دے بالکل غېر منطقي خبره ده. اوس هم وخت دے چې د قنبر علي خان د کلام هغه برخه چې دوي سره ناچاپ پرته ده راوړاندې کړي چې ټولو پښتنو ته ورسي. ښاغلے همېش خلیل د قنبر علي خان د دیوان د مرتب کولو په وخت دا قسمه مشکلاتو سره مخ شوے دے او هغه لیکي:

> "د قنبر علي خان د کلام څۀ برخه د بنګښو علاقه کښې د هغۀ د ځینو معتقدینو سره ده چې د محرم په میاشت کښې یې په خپلو غونډو کښې په ډېر عزت سره لولي. دغه کلام کښې د قنبر علي خان داسې ډېرې غزلې او مناقب شته چې د هغۀ دا دیوان پرې تر څۀ حده مکمل کیدے شو ولې لکه ما مخکښې عرض کړے دے د قنبر علي خان دغه عقیدت مندان د شیعه شعراؤ د کلام خورونې په کلکه مخالف دي"(۱۱).

قنبر علي خان اورکزي د خپلو پېش رو شاعرانو د اکثرو شاعرانو په زمکو غزلې لیکلي دي خو د دې دا مطلب هرګز نۀ دے چې هغه په خپله ښۀ شاعر نۀ ؤ یا دغو شاعرانو نه متاثر ؤ بلکې هغۀ د دغو شاعرانو د کلامونو ځوابونه وئیلي دي او کمال یې هم دا کړے دے چې د هغوي په زمکو کښې ورته ځوابونه وئیلي دي. دلته دا خبره په پوره وثوق سره کیدے شي چې که قنبر علي خان اورکزے په صحیح معنو کښې کوم شاعر نۀ متاثره ښکاري نو هغه رحمان بابا دے.

"زما په نظر د پښتو د کلاسيک شعر له بل هر شخصيت څخه هغه رحمان بابا ته زيات نژدې دے او يا يې د نورو په نسبت د هغهٔ له شعر څخه زياته استفاده کړې ده"(۱۲).

دلته د زرين انځور دا خبره تر څهٔ حده سمه معلومېږي چې هغهٔ د رحمان بابا نه استفاده کړې ده يا ترې متاثره ښکاري خو خبره د دواړو د ذهني اپروچ او د خيال هم اهنګي ده. رحمان بابا د پښتو لوے صوفي شاعر منلے شوے دے او د قنبر علي خان اورکزي د شاعرۍ محور هم تصوف دے.

"د قنبر علي خان په غزلو د تصوف رنګ غالب دے او زياتې غزلې يې د پښتو ادبياتو د کلاسيکي دورې د شاعرانو په اکتفا وئيلې دي"(۱۳).

د مختلفو حوالو څخه ثابته شوه چې په تصوف کښې د اللهؒ او د رسولؐ مينه له هر څهٔ نه مخکښې ده بلکې بغېر له دې نه تصوف تصور هم خام دے.

د الله د نور د بحر له امواجه
د مصباح انوار طلوع که زجاجه"(۱۴)

د الله په نور چې د کوم انسان زړهٔ منور شي هغهٔ ته بيا د دنيا يوه تيارهٔ هم مشکلات نهٔ شي پېدا کولے بلکې هغه د زړهٔ په رڼا هغه ځاے ته هم ورتلے شي چرته چې د عام انسان رسائي ممکن نهٔ وي. خو د زړهٔ دا نور هسې نهٔ حاصلېږي دې دپاره ډېره مجاهده پکار وي او صوفيان د داسې مجاهدو نه پس د زړهٔ دا رڼا حاصلوي. د عاشق په زړهٔ هر هغه څيز خوږ لګي کوم چې څهٔ نه څهٔ نسبت د معشوق سره وي. صوفيان چونکې د اللهؒ سره د عشق دعویٰ کوي نو هم په دې سبب هغوي د اللهؒ تر ټولو خوږ او محبوب بنده حضرت محمدؐ سره هم بې انتها عشق لري. بلکې اللهؒ ته د رسيدو دپاره حضرت محمدؐ لويه وسيله ګڼي او هم په دې اساس هغوي د حضرت محمدؐ هم ډېر ثنا او صفت کوي. که طرف ته دوي د الله ذکر کوي نو بل خوا په حضرت محمدؐ درود شريف هم لاومي ګڼي.

زهٔ قنبر علي ثنا د مصطفیٰؐ کړم
د مداح قدرداني وي په ممدوح"(۱۵)

په الله پاک توکل کول د مومنانو لوے صفت دے او دې صفت ته په تصوف کښې لوے اهمیت حاصل دے

توکل چې په خدائے نۀ لري قنبره!
د هغو کسانو رنځ دے د ګونګتې"(۱۶)

شک د ایمان زیان دے، او یقین د ایمان لوړه مرتبه ده. خو نفاق هغه خطرناک مرض دے چې علاج یې ډېر مشکل دے، کومو خلکو ته چې دا مرض ولګي هغوي ته بیا د ایمان مزه ډېره په مشکله محسوسېږي. کوم عمل سره چې د نفاق امیزش وي هغه عمل بې کاره دے بلکې فایدې په ځائے د نقصان سبب ګرځي. قنبر علي خان اورکزے هم د دې خطرناکې بیمارۍ ذکر څۀ په دې ډول کوي.

څو چې رنګ د نفاق ورک له خاطر نۀ شي
د ایمان متاع به نۀ وړي سلامته"(۱۷)

د تصوف سره تعلق لرونکي شاعران لکه څنګه چې اللهؒ او رسولؐ سره د خپلې مینې اظهار کوي هم دغه شان دوي د اهلِ بېتو سره هم پوره پوره عقیدت لري. قنبر علي خان اورکزي هم په خپل کلام کښې ډېر په شدت سره د اهلِ بېتو سره د مینې اظهار د شعر په ژبه کړے دے بلکې که دا ووئیلے شي چې د قنبر علي خان اورکزي د شعر زیاته برخه د اهلِ بېتو سره د مینې د اظهار ده نو دا به یو حقیقت وي.

اول حمد ثنا د خدائے عزوجل دے
چې مخلوق یې تقسیم کړے په اجل دے
دویم نعت د محمد رسول الله دے
چې یې اسم په ادم عالم افضل دے
بیا به مدح منقبت د مرتضیٰ کړم
د اسلام سر د ایمان فرد اول دے
په لاس شمع د ایمان په خولۀ کښې شهد
مومنانو! د عمل مثل عسل دے
په دوستۍ د اهل بیت مې تازه روح دے
هر یو بیت په اشارت ضرب المثل دے(۱۸)

معرفت په تصوف کښې يو اهم مقام دے. د پير روښان د تصوف په اتو مقاماتو کښې د معرفت څلورم مقام دے. ډاکټر پرويز مهجور خويشکي په روښاني تصوف کښې د معرفت متعلق ليکلي دي:

"د حقيقت نه وروستو لکه څنګه چې ووئيل شول د معرفت احوال شروع کېږي. په دې مقام د سالک د زړۀ سترګې بينا شي او په هر لوري د يو ذات جلوهويني. په هر څيز کښې د يوې هستۍ مشاهده کوي. هر وجود او هر نمود په يو ذات ژوندے ويني"(۱۹).

د تصوف د دې اهم مقام متعلق قنبر علي خان اورکزي ډېر شعرونه وئيلي دي او د دې مقام ذکر يې په ډېره ښه پيرايه کښې کړے دے.

معرفت د خدائے په زړۀ لره قنبره!
ګوندې خلاص شې په دوو کونو له عذابه"(۲۰)

او په يو بل ځائے کښې داسې وائي:

د دنيا سود به نقصان ګڼې قنبره!
که خبر شې تۀ د معرفت له سوده"(۲۱)

او په يو بل شعر کښې د سالک او د معبود نزديکت او د نور او حجاب په باره کښې څۀ داسې ګويا دے.

د سالک قرب که حاصل شي له حجابه
د معبود په ذات قريب د نور حجاب دے"(۲۲)

د عارف د معرفت مقام ته د رسېدو په باب له حبيب الله رفيع ليکي:

"عارف چې يوې نقطې ته ورسېږي، زړۀ يې کوهِ طور شي او د محبوب د نور جلوه يې په وجود، جذبه، شوق او ذوق راولي، په دې ټکي کښې ورک شي، ځان او جهان ترې ورک شي او د سماع په عالم کښې يې رګ رګ د رباب تارونه شي. قنبر علي خان د ټولې شرعي پابندۍ سره سره دې نازکو مرحلو ته هم رسېدلے او ننددار چې شوے دے"(۲۳).

د مثال دپاره رفيع صېب د قنبر علي خان اورکزي دا شعرونه هم نقل کړي دي.

چې وجد نۀ لري په سمع د سماع
هغه نۀ لري د ذوق او شوق متاع

چې په عشق د خپله خوده شي بې خوده
په هغو د محبت حکم مطاع"(۲۴)

طریقت په تصوف کښې (خصوصاً په روښاني تصوف کښې) د شریعت نه پس یو اهم مقام دے. ولې چې په شریعت خو عام مسلمانان هم پوهېږي او عمل پرې کولے شي او کوي یې هم خو طریقت خالص د صوفیانو خصلت دے عام انسان دپاره په دې پوهېدل اسان نهٔ دي. شریعت د ظاهر علم ښائي او طریقت د باطن لار ښودنه کوي. ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي لیکي:

"طریقت په شریعت د عمل په وجه د هغو د باطني معنویت د حاصلولو او زړهٔ او روح د دغه معنویت سره اشنا کول دي. طریقت ته سلوک هم وائي. سلوک حق ذات ته د کشف په ذریعه د رسېدو لار ده، نهٔ چې د استدلال په لاره"(۲۵).

فاضل محقق د طریقت په باره کښې وړاندې لیکي:

"په شریعت کښې د استقامت نه پس په طریقت کښې دباطني فتوحاتو سفر شروع کېږي"(۲۶).

د قنبر علي خان اورکزي په دیوان کښې د تصوف د دې مقام طریقت متعلق شعرونه شته دي چې هغوي په ډېر وضاحت سره د دې مقام تعین کړے دے.

د طریقت وضو مې وکړهٔ د صورت په وینو
د معرفت رکوع سجود کړم له قیامه سره"(۲۷)

د صوفیانو په نزد دا دنیا هېڅ قدر و قیمت نشته بلکې دا هغوي یو لوے فرېب ګڼي او ځکه ورته په درنه سترګه نهٔ ګوري. قنبر علي خان اورکزے هم د دنیا متعلق دا نظر لري:

دا معنیٰ د اهلِ دل وته املا دے
چې مثال د دې دنیا بیت الخلا دے"(۲۸)

خو د اخرت په اعتبار سره که هر څو دا دنیا څهٔ اهمیت نهٔ لري خو د اخرت دپاره دا دنیا لکه د پټي مثال لري. دلته چې انسان څهٔ رنګه عمل هم وکړي د هغې

بدله ورته په اخرت کښې ملاوېږي. نو قنبر علي خان اورکزے هم دنیا ته د اخرت پټي سره نسبت کوي او وائي:

د دنیا په زمکه کشت د اخرت که
د هر چا چې ائینه د زړۀ صفا ده"(۲۹)

دلته یو غزل یو څو شعرونه وړاندې کوو چې د تصوف سره سره د شعریت هم ښې نمونې دي.

چې د زړۀ په خاص خلوت مې دلبر بیاموند
په یقین مې د دوو کونو مظهر بیاموند
چې پرتو یې د جمال راباندې وشۀ
په معددن مې د زړۀ ګنج د ګوهر بیاموند
چې یې اصل په زمین سر په سما دے
د هغۀ شجر له ښاخ مې ثمر بیاموند
چې نسیم یې د ګیسو نه شمیم راوړي
د عطار په شان مې زړۀ معطر بیاموند
چې یې هېڅ اشیا خالي له اثر نۀ دي
د یار مخ مې له هر شي له اثر بیاموند
چې د حسن په تخت ناست وي سلطنت که
پرستار مې ورته شمس و قمر بیاموند
چې عالم یې په یوۀ دیدن محتاج دے
هغه ناز پرور په زړۀ کښې قنبر بیاموند"(۳۰)

**نتیجه**: قنبر علي خان اورکزے یو ښۀ شاعر دے خو د هغوي شاعري د نوې څېړنې متقاضي ده. ولې چې د موادو او د افکارو په حواله د هغۀ دیوان یو ووړ دیوان دے خو چرې په صحیح معنو کښې په هغۀ باندې تحقیقي کار وشو. په اخر کښې د هغۀ د خپل کلام متعلق دا دعویٰ ښېخي سمه ښکاري هر څو که دا د شاعرانه تعلي په زمره کښې راځي خو بیا هم که مونږ د هغۀ د کلام څېړنیزه او هر اړخیزه جایزه اخلو نو بیا په دې کښې هېڅ مبالغه نۀ ښکاري بلکې په حقیقت مبني ښکاري:

# حوالې


(۱) محمد حفیظ الرحمان،ڈاکٹر، تصوف اور صوفیا کی تاریخ(عرب سے ہندوستان تک)، علم و عرفان پبلشرز، ۴۰ الحمد مارکیٹ لاہور، اکتوبر ۲۰۱۴، ص ۲۶

(۲) ایضا، ص ۲۳

(۳) رفیع، حبیب الله، د قنبر علي خان اورکزي عرفاني افکار، مشموله: د قنبر علي خان اورکزي یاد، تدوین: سر محقق زلمے هیواد مل، یونیورستې بک اېجنسي پېښور، ۱۹۹۷ء، مخ ۲۰-۲۱

(۴) خوېشکے، پروېز مهجور، ډاکټر، پروفېسر، روښاني تصوف، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي، ۲۰۱۲، مخ ۷.

(۵) ڈار،بشیر احمد، تاریخ تصوف، ادارہ ثقافتِ اسلامیہ، ۲کلب روڈ لاہور، تیسرا ایڈیشن، ۲۰۱۷، ص ۷

(۶) محمد حفیظ الرحمان،ڈاکٹر، تصوف اور صوفیا کی تاریخ(عرب سے ہندوستان تک)، ص ۲۳

(۷) همېش خلیل، دیوان قنبر علي خان، ړومبے ځل، مقدمه، دارالتصنیف جهانګیر پوره بابو حېدر روډ پېښور ښهر، جنوري ۱۹۲۰ء، مخ (ط - ع)

(۸) همدغه، مخ (ک)

(۹) همدغه، مخ (ک)

(۱۰) همدغه، مخ (ک – ل)

(۱۱) همدغه، مخ (ق)

(۱۲) انځور، زرین، د سبک له پلوه د قنبر علي خان په شعر څو ټکي، مشموله: د قنبر علي خان اورکزي یاد، ، مخ ۲۱

(۱۳) بریالے باجوړے، پوهاند، په پښتو کلاسېک غزل کښې د قنبر علي خان د غزل ښکلائیز اړخ ځانګړتیاوې او مقام، مشموله: د قنبر علي خان اورکزي یاد، مخ ۸۵

(۱۴) دیوان قنبر علي خان، ړومبے ځل، مخ ۲۱

(۱۵) همدغه، مخ ۲۴

(۱۶) همدغه، مخ ۱۹

(۱۷) همدغه، مخ ۱۷

(۱۸) همدغه، مخ ۹۲

(۱۹) خوېشکے، پروېز مهجور، ډاکټر، پروفېسر، روښاني تصوف، مخ ۸۲-۸۳

(۲۰) دیوان قنبر علي خان، ړومبے ځل، مخ ۲
(۲۱)همدغه، مخ ۳۱
(۲۲) همدغه، مخ ۸۹
(۲۳) رفیع، حبیب الله، د قنبر علي خان اورکزي عرفاني افکار، مخ ۲۳
(۲۴) همدغه، مخ ۲۴
(۲۵) خوښکے، پرویز مهجور، ډاکټر، پروفېسر، روښاني تصوف، مخ ۲۵
(۲۶) همدغه، مخ ۲۶
(۲۷) دیوان قنبر علي خان، ړومبے ځل، مخ ۲۰
(۲۸) همدغه، مخ ۹۱
(۲۹) همدغه، مخ ۹۱
(۳۰)همدغه، مخ ۳۵- ۳۶